شریعت
ورځپاڼه
د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان
د تأسیس کال ۱۳۷۴ هـ.ش / دوهم پړاو ۱۱۰۴ ګڼه / یکشنبه د محرم‌الحرام ۲۶مه ۱۴۴۸هـ.ق / د چنګاښ ۲۱مه ۱۴۰۵ هـ.ش / د جولای ۱۲مه ۲۰۲۶ میلادي

د کرنې وزیر په هند کې د سوداګریزو فرصتونو غونډې ته وینا وکړه

د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزیر مولوي عطاءالله عمري، هند ته د خپل رسمي سفر په دوام، د «افغانستان او هند د سوداګریزو فرصتونو»غونډه کې ګډون او وینا کړې. د کرنې وزیر په خپله وینا کې د افغانستان او هند ترمنځ د اقتصادي او سوداګریزو همکاریو پراختیا د دوارو هېوادونو د ګډو ګټو لپاره مهمه بللې او د کرنې، اوبو لګولو، مالدارۍ، د کرنیزو محصولاتو د پروسس صنعت، د پانګونې، د ټکنالوژۍ لېږد، د صادراتو د پراختیا او خصوصي سکتور ته د نویو فرصتونو د رامنځته کولو په برخو کې د همکاریو پر پراختیا یې ټینګار کړی. مولوي عطاءالله عمري د افغانستان د کرنې سکټور پراخو ظرفیتونو ته په اشارې سره، له هندي پانګوالو او شرکتونو غوښتي، چې د تولید، پروسس، بسته‌بندۍ، د کرنیزو محصولاتو د ارزښت ځنځیر، د مالدارۍ پراختیا، د اوبو سرچینو د مدیریت او د کرنې د نوي ټکنالوژۍ په برخو کې له شته فرصتونو څخه ګټه واخلي او په ګډو پروژو کې پانګونه وکړي. په دې غونډه کې د هند د «پي‌اچ‌ډي» د سوداګرۍ او صنایعو خونې مسئولینو، د هند د بهرنیو چارو وزارت استازو، په نوي ډېلي کې د افغانستان سفارت سرپرست، د هند د کرنیزو او غذایي محصولاتو د صادراتو د پراختیا اداري (APEDA) مسئولینو، د خصوصي شرکتونو... ۳مخ

هرات او فراه کې د روغتیايي خدماتو د پیاوړتیا په موخه یو مهم تړون لاسلیک شو

د عامې روغتیا وزارت د هرات او فراه ولایتونو اوسېدونکو ته د روغتیايي خدمتونو د پراختیا او پیاوړتیا په موخه له Agency for Assistance and Development of (Afghanistan AADA) مؤسسې سره د ۴۳۹ زره او ۴۱۶ امریکايي ډالرو په ارزښت د یو نیم کلنې پروژې تړون لاسلیک کړی دی. د عامې روغتیا وزارت په خبرپاڼه کې راغلي، چې د دغه تړون موخه د روغتیايي خدمتونو کیفیت لوړول، خدماتو ته د خلکو لاسرسی زیاتول او د ټولنې د روغتیايي ستونزو کمول دي. د تړون له مخې به د هرات او فراه ولایتونو په ۱۱۷ روغتیايي مرکزونو کې ۱۵۷ زره او ۸۲۳ حادو متوسطو خوارځواکو کوچنیانو او شیدې ورکوونکو میندو ته د تغذیې اړوند روغتیايي خدمتونه وړاندې شي. ۳مخ

پیشرفت ۳۰ درصدی ساخت سردخانه ۶۰۰ متریک تنی در پکتیکا

معاونیت اقتصادی ریاست‌الوزراء اعلام کرده است که کار ساخت یک سردخانه با ظرفیت ۶۰۰ متریک تن در ولایت پکتیکا با ۳۰ درصد پیشرفت فیزیکی ادامه دارد. براساس خبرنامه این معاونیت، این پروژه در زمینی به مساحت شش جریب و با هزینه ۹۳.۵ میلیون افغانی در حال اجراء است و پیش‌بینی می‌شود که در سال ۱۴۰۵ تکمیل و به بهره‌برداری سپرده شود. معاونیت اقتصادی ریاست‌الوزراء گفته است که این سردخانه پس از تکمیل، ظرفیت نگهداری میوه‌های تازه و سایر محصولات زراعتی را فراهم خواهد کرد؛ اقدامی که به کاهش ضایعات محصولات، حفظ کیفیت تولیدات زراعتی و ایجاد سهولت برای دهقانان ولایت پکتیکا کمک خواهد کرد. در خبرنامه آمده است که توسعه زیرساخت‌های نگهداری محصولات زراعتی، یکی از نیازهای اساسی بخش زراعت به شمار می‌رود و ایجاد چنین تأسیساتی می‌تواند زمینه عرضه بهتر محصولات به بازار، افزایش ارزش اقتصادی تولیدات و کاهش خسارات ناشی از فسادپذیری محصولات را فراهم سازد.

دوحه کې د راستنېدونکو کډوالو پر ستونزو خبرې وشوې

په قطر کې د اسلامي امارت سفیر، محمد سهیل شاهین، د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو د عالي کمېشنرۍ (UNHCR) له لوړپوړي چارواکي برهم صالح سره لیدلي او له ایران او پاکستان څخه د راستنېدونکو افغان کډوالو پر وضعیت، اړتیاوو او ورسره د مرستو پر څرنګوالي یې خبرې کړې دي. په قطر کې د افغانستان سفارت... ۳مخ

گشایش سومین نمایشگاه ملی و بین‌المللی مولانا جلال‌الدین محمد بلخی در مزارشریف

سومین نمایشگاه ملی و بین‌المللی مولانا جلال‌الدین محمد بلخی با حضور مسئولان محلی، صنعت‌کاران، سرمایه‌گذاران، تاجران و شهروندان در شهر مزارشریف، مرکز ولایت بلخ، گشایش یافت. در این نمایشگاه، تولیدات داخلی در بخش‌های صنایع دستی، مواد غذایی، محصولات زراعتی، مواد ساختمانی، لوژستیک، فرهنگ، صحت، خدمات اجتماعی، بانک‌ها

ایجاد سهولت‌ها برای تاجران و پشتیبانی از سرمایه‌گذاران را از برنامه‌های مهم امارت اسلامی عنوان کرد. همچنان امام‌الدین سنایی‌زاده، رئیس اتاق صنایع و معادن بلخ، بر حمایت از تولیدکنندگان داخلی و گسترش بازارهای فروش تأکید کرده و برگزاری چنین نمایشگاه‌ها را در رشد صنعت کشور مؤثر دانست. شماری از تولیدکنندگان حاضر در این نمایشگاه نیز با تأکید بر...ص۳

سرمقاله

حکیم رهبر له هرې پرېکړې وړاندې خپل دیني او ملي ارزښتونه تضمینوي!

هوښیار رهبر هېڅکله داسې کومه پرېکړه نه کوي چې د دین، هېواد او ملت په زیان یې وي او هېڅکله داسې یوې جګړې ته هم نه داخلېږي، چې ځای او وخت یې دښمن ټاکلی وي. که چېرې موږ او تاسې د شام د نوي مشرتابه هغې پرېکړې او سیاست ته وګورو، کوم چې د اسرائیلو د پرلپسې یرغلونو، بمباریو او پاروونکو اقداماتو په مقابل کې یې ترسره کړ، ډېر کامیاب ؤ؛ ځکه غاصبو یهودو غوښتل چې د شام نوی نظام په داسې یوې جګړې کې ښکېل کړي چې وخت، نوعیت، ځای او شرایط یې مقابل لوري ټاکلي وو. همدارنګه یهودو غوښتل چې د شام نوی نظام له حزب الله سره په جنګ واچوي، خو سره له دې چې د حزب الله او د شام د نوي نظام ترمنځ پخوانۍ اوږده دښمني او رقابت موجود ؤ او اوس یې ښه د غچ اخیستنې وخت ؤ، خو دوی هېڅ عکس العمل ونه ښوده.

دا د شام د نوي حکومت په کمزورۍ دلالت نه کوي، بلکې دا د دوی په هوښیارۍ رهبرۍ دلالت کوي. دوی په داسې یوې جګړې کې ځان ښکېل نه کړ، د کومې چې ځای، وخت او د جګړې نوع دښمن ټاکلې وه. هوښیاران وایي: هوښیار رهبر هېڅکله د دښمن د غوښتنې له مخې جګړه نه کوي او نه هم په هغې جګړې کې زور ازمایي چې رقیب او سیال ورته چمتو کړې وي، ځکه د جګړې لومړی او مهم اصل دا دی چې د کنټرول او بدلون واګې باید ستا په لاس کې وي، نه د دښمن په لاس کې.

همدارنګه، هوښیاره رهبري پرېکړې د احساساتو او غوسې له مخې نه کوي او نه خپل ځان د دښمن په پاروونکو اقداماتو کې ښکېلوي؛ ځکه دښمن خو همدا غواړي چې مقابل لوری یې پر احساساتو راشي او د دوی په جوړ کړي دام کې ونښلي. هوښیار رهبر خپل انتقام او بدل په ډېر حکمت، مناسب وخت، ځای او اوږد مهالو ملي ګټو ته په کتو اخلي، ځکه دی پوهېږي چې کله کله جګړې په زور او احساساتو نه، بلکې په عقل او حکمت ګټل کېږي، ځکه هوښیار رهبر لومړی د بریا شرایط برابروي، بیا جګړه کوي؛ خو ناکام رهبر لومړی د جګړې ډګر ته ننوځي او وروسته د بریا موندلو هڅه کوي. موږ افغانان ډېر احساساتي خلک یو، چې دا حالت زموږ... ۳مخ

بلخ کې د غنمو حاصلات ۶۵ سلنه زیات شوي

د بلخ ولایت د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست وایي: سږ کال په دغه ولایت کې د غنمو تولید د تېر کال په پرتله د پام وړ زیات شوی او اټکل کېږي چې حاصلات به شاوخوا ۳۴۰ زره مټریک ټنو ته ورسېږي. د یاد ریاست د معلوماتو له مخې، د غنمو په تولید کې دا زیاتوالی د اورښتونو د ډېرېدو، د غنمو د کرنیزو ځمکو د... ۳مخ

افتتاح ساختمان جدید مدرسهٔ «دارالعلوم توتاخېل» درپکتیا

مولوی قدرت‌الله جمال معین مالی، اداری و گرځندوی وزارت اطلاعات و فرهنگ، ساختمان جدید مدرسهٔ «دارالعلوم توتاخېل» را در ولسوالی سیدکرم پکتیا، افتتاح کرد. در مراسم افتتاح ساختمان جدید مدرسهٔ مذکور، معین مالی، اداری و گرځندوی وزارت اطلاعات و فرهنگ، در سخنانش نقش مدارس دینی در راستای تربیت فکری، علمی و اخلاقی جامعهٔ اسلامی را مهم دانست و گفت که تقویت علوم اسلامی وعصری، پایهٔ پیشرفت کشور و ایجاد یک جامعهٔ سالم است. او تأکید کرد که امارت اسلامی به منظور تقویت نهادهای دینی و علمی، بهبود محیط آموزشی و تربیت سالم نسل جوان، تلاش‌های خود را ادامه می‌دهد. معین وزارت اطلاعات و فرهنگ، از مسئولان مدارس، علماء و بزرگان خواست که برای تقویت علم، وحدت و ارزش های اسلامی، به‌گونهٔ مشترک کار کنند... ص۳

د کندهار لرې پرتې ولسوالۍ له مرکز سره وصلیږي

د کندهار د کلیو د بیارغونې او پراختیا ریاست مسئولینو ویلي: د اسلامي امارت له بیا واکمنۍ راهیسې یې د دغه ولایت د شاولیکوټ،...۳مخ

کابل؛ په تېرو دوو اوونیو کې ۱۱۷۱ وثیقې اجراء شوې دي

شریعت: د سترې محکمې مسئولینو شریعت ورځپاڼې ته ویلي، چې د کابل ښار د سندونو او وثیقو د ثبت شېړو آمریتونو په تېرو دوو اوونیو کې ۱۱۷۱ بېلابېلې وثیقې اجراء کړې دي. د سترې محکمې مرستیال ویاند، قاري منصور حمزه، شریعت امارتي ورځپاڼې ته وویل: «د سندونو او وثیقو د ثبت لومړۍ حوزې په یاده موده کې ۸۵ نکاح‌خطونه، ۵۳ قبالې، ۱۳ زوجیت‌خطونه او ۴۱ نورې بېلابېلې وثیقې اجراء کړې دي.» د نوموړي په وینا، د سندونو او وثیقو د ثبت دویمې حوزې په تېرو دوو اوونیو کې ۵۰ نکاح‌خطونه، ۱۳ قبالې، ۶ زوجیت‌خطونه او ۱۰۷ نورې بېلابېلې وثیقې اجراء کړې دي. ۳مخ

د پغمان درې سړک په معیاري بڼه جوړېږي

د پېښو پر وړاندې د مبارزې او چمتووالي ادارې ویلي: د کابل ولایت د پغمان ولسوالۍ «پغمان درې» د هغه سړک د پراخولو او بیارغولو چارې پیل شوې چې د سیمې د اوسېدونکو او سیلانیانو لپاره یې ګڼې ستونزې رامنځته کړې وې. د دې ادارې د خبرپاڼې له مخې یاد سړک به د څو اوونیو په موده کې په اساسي ډول ورغول شي او د خلکو او سیلانیانو لپاره به خوندي، اسانه او مناسب تګ راتګ برابر شي. سرچینې لیکلي چې د دې سړک د پراخولو او بیارغونې ټول لګښت د پېښو پر وړاندې د مبارزې او چمتووالي ادارې له بېړنۍ بودیجې څخه ورکول کېږي. د پېښو پر وړاندې د مبارې او... ۳مخ

کارساخت و ساز شاهراه ها باید در اولویت قرار گیرد ۲
د خپلوۍ پالنې ارزښت ۲
افزایش حجم انتقالات ریلی و بهبود زیرساخت‌های اقتصادی افغانستان ۲
افغان اعلانات ۳

افزایش حجم انتقالات ریلی و بهبود زیرساخت‌های اقتصادی افغانستان

فداء الحق

افغانستان در سال‌های اخیر در مسیر بازسازی اقتصادی و توسعه زیربناها گام‌های مهم و قابل توجهی برداشته است. موقعیت جغرافیایی این کشور که در قلب آسیا قرار دارد، همواره این ظرفیت را فراهم کرده است که افغانستان به عنوان یک پل ارتباطی میان کشورهای آسیای مرکزی و جنوب آسیا عمل کند. بر همین اساس، تمرکز بر گسترش دهلیزهای ترانزیتی، توسعه شبکه‌های حمل‌ونقل ریلی و اجرای پروژه‌های بزرگ آبی، به یکی از محورهای اصلی برنامه‌های اقتصادی کشور تبدیل شده است. تازه‌ترین دستاوردها در این بخش‌ها نشان می‌دهد که روند توسعه در کشور وارد مرحله عملی‌تر و پایدارتر شده و آثار آن در عرصه تجارت، اشتغال و زراعت به‌گونه واضح قابل مشاهده است.

بر اساس آمارهای منتشر شده از سوی ادارات مرتبط با راه‌آهن منطقه، حجم انتقالات ریلی میان افغانستان و ازبیکستان در پنج ماه نخست سال جاری میلادی نسبت به مدت مشابه سال گذشته دو برابر افزایش یافته است. این افزایش قابل توجه، بیانگر رشد روزافزون همکاری‌های اقتصادی میان دو کشور و ارتقای نقش افغانستان در شبکه ترانزیتی منطقه می‌باشد.

در این مدت، بیش از ۴۱ هزار واگون حامل حدود ۲.۷ میلیون تن کالا در مسیرهای ریلی میان دو کشور جابه‌جا شده است. این در حالیست که در سال گذشته، این رقم به حدود ۲۰ هزار و ۴۱۵ واگون محدود می‌شد. چنین رشدی نه تنها نشان‌دهنده افزایش حجم تجارت دوجانبه است، بلکه از توسعه ظرفیت‌های تخنیکی و بهبود زیرساخت‌های حمل‌ونقل ریلی نیز حکایت دارد.

مسئولان سکتور ریلی و فعالان بخش خصوصی تأکید می‌کنند که گسترش خطوط ریلی و تسهیل روند انتقال کالاها، نقش مهمی در کاهش هزینه‌های ترانسپورت، افزایش سرعت جابه‌جایی اموال و ارتقای سطح امنیت حمل‌ونقل ایفا کرده است. این عوامل سبب شده‌اند تا تجار داخلی و خارجی اعتماد بیشتری نسبت به استفاده از مسیرهای ریلی افغانستان پیدا کنند.

یکی از نکات مهم در این روند، تبدیل شدن افغانستان به یک حلقه کلیدی در اتصال کشورهای آسیای مرکزی به جنوب آسیاست. بر اساس تحلیل‌های اقتصادی، مسیر ریلی افغانستان تنها به تجارت دوجانبه محدود نمی‌ماند، بلکه به عنوان یک دهلیز ترانزیتی مهم برای انتقال کالاهای کشورهای روسیه، بلاروس و قزاقستان نیز مورد استفاده قرار می‌گیرد.

این وضعیت، جایگاه ژئوپولیتیکی افغانستان را بیش از پیش برجسته ساخته و کشور را به عنوان یک چهارراه مهم ترانزیتی در منطقه مطرح کرده است. افزایش استفاده از این مسیرها، می‌تواند زمینه‌ساز رشد عواید ملی، تقویت سرمایه‌گذاری خارجی و ایجاد فرصت‌های جدید شغلی در بخش‌های مرتبط با حمل‌ونقل و خدمات لوژستیکی باشد.

در کنار این دستاوردها، همکاری‌های فنی و تخنیکی میان افغانستان و کشورهای همسایه در بخش مدیریت خطوط ریلی نیز رو به گسترش است. این همکاری‌ها شامل بهبود سیستم‌های تخلیه و بارگیری، ستندردسازی واگون‌ها و ارتقای سطح مدیریت گمرکی می‌باشد که همگی در جهت تسهیل تجارت منطقه‌ای نقش اساسی دارند.

در کنار دستاوردهای بخش ترانزیتی، پروژه‌های زیربنایی آبی نیز در افغانستان با سرعت قابل توجهی در حال پیشرفت است. یکی از این پروژه‌های مهم، بند قادس خُردک در ولسوالی قادس ولایت بادغیس می‌باشد که اکنون به ۵۷ درصد پیشرفت کاری رسیده است.

بر اساس معلومات ارائه‌شده از سوی دفتر معاونیت اقتصادی ریاست‌الوزراء کار ساخت این بند مطابق پلان از پیش تعیین‌شده در حال اجراء بوده و انتظار می‌رود در سال ۱۴۰۶ خورشیدی به بهره‌برداری کامل برسد. این پروژه با هزینه‌ای در حدود ۸۰۰ میلیون افغانی عملی می‌شود و یکی از طرح‌های مهم در بخش مدیریت منابع آبی کشور به شمار می‌رود.

بند قادس خُردک دارای دیواری به طول ۱۹۰ متر و ارتفاع ۳۲ متر خواهد بود و ظرفیت ذخیره‌سازی آن به ۲.۱۷ میلیون متر مکعب آب می‌رسد. این ظرفیت قابل توجه، امکان آبیاری حدود ۱۴۰۰ هکتار زمین زراعتی را فراهم خواهد ساخت که می‌تواند تأثیر مستقیم بر افزایش تولیدات زراعتی و بهبود وضعیت معیشتی دهقانان محل داشته باشد.

قابل یادآوریست که اجرای این پروژه در کنار اهداف تخنیکی، دارای پیامدهای مهم اقتصادی و اجتماعی نیز می‌باشد. در جریان ساخت بند قادس خُردک، برای حدود ۲۰۰ تن از کارگران و متخصصان زمینه اشتغال فراهم شده است که این امر نقش مهمی در کاهش بیکاری در منطقه ایفا می‌کند.

از سوی دیگر، تکمیل این بند می‌تواند در مدیریت بهتر منابع آبی، جلوگیری از خشکسالی‌های فصلی و افزایش سطح حاصلخیزی زمین‌های زراعتی نقش مؤثر داشته باشد. در شرایطی که بخش زراعت یکی از ستون‌های اصلی اقتصاد افغانستان به شمار می‌رود، چنین پروژه‌هایی می‌توانند زمینه‌ساز خودکفایی نسبی در تولید محصولات زراعتی شوند.

قابل ذکر است که بررسی همزمان پیشرفت در بخش حمل‌ونقل ریلی و پروژه‌های آبی نشان می‌دهد که افغانستان در حال حرکت به سوی یک الگوی توسعه متوازن است. از یک سو، گسترش دهلیزهای ترانزیتی باعث افزایش ارتباطات اقتصادی با کشورهای منطقه شده و از سوی دیگر، سرمایه‌گذاری در بخش منابع آبی و زراعتی زمینه رشد تولید داخلی را فراهم می‌سازد.

این دو حوزه در کنار یکدیگر می‌توانند ساختار اقتصادی کشور را تقویت کرده و زمینه را برای ایجاد یک اقتصاد پایدار و مستقل فراهم نمایند. به باور کارشناسان اقتصادی، زمانی که زیرساخت‌های حمل‌ونقل و منابع تولیدی همزمان رشد کنند، تأثیر آن بر توسعه ملی چند برابر خواهد بود.

در پایان مجموع افزایش دوبرابری حجم حمل‌ونقل ریلی میان افغانستان و ازبیکستان و پیشرفت بیش از ۵۷ درصدی بند قادس خُردک در ولایت بادغیس، نشان‌دهنده حرکت رو به رشد کشور در مسیر توسعه زیربنایی و تقویت ظرفیت‌های اقتصادی است. این دستاوردها نه تنها بیانگر بهبود وضعیت فنی و مدیریتی در بخش‌های مربوطه می‌باشد، بلکه امیدهای تازه را برای رشد تجارت، افزایش اشتغال و بهبود معیشت مردم ایجاد کرده است.

ادامه این روند و تمرکز بر تکمیل پروژه‌های زیربنایی می‌تواند در آینده، افغانستان را به یکی از کشورهای مهم ترانزیتی و تولیدی در منطقه تبدیل کند؛ کشوری که با استفاده مؤثر از موقعیت جغرافیایی و منابع داخلی خود، بتواند نقش فعال و سازنده‌ای در اقتصاد منطقه‌ای ایفا نماید.

آغاز پروژه ماین‌پاکی...

که این پروژه با هزینه بیش از ۹۰ هزار دالر از سوی مؤسسه «دافاع» در سطح این ولایت آغاز شده است. وی تصریح کرد که این پروژه با هماهنگی نزدیک ریاست آمادگی مبارزه با حوادث و ریاست اقتصاد پنجشیر به اجراء درآمده است. به گفته رئیس اقتصاد پنجشیر، مؤسسه ماین‌پاکی دافاع در مرحله نخست، عملیات پاک‌سازی مناطق آلوده به ماین و مهمات منفجرناشده را در ولسوالی‌های دره، آبشار و پریان آغاز کرده و سپس این برنامه به چهار ولسوالی دیگر و مرکز ولایت، شهر بازارک، نیز گسترش خواهد یافت. در این حال محمدطاهر ودان مسئول نظارت موسسه ماین پاکی دافاع گفت که مؤسسه دافاع برنامه پاک‌سازی مناطق آلوده به ماین و مهمات منفجرناشده را در سراسر پنجشیر به‌صورت تدریجی اجراء خواهد کرد.

کارساخت و ساز شاهراه ها باید در اولویت قرار گیرد

سعید

عرضه خدمات اولیه به ویژه خدمات اجتماعی، یکی از اولویت های اساسی نظام ها را تشکیل می دهد، زیرا عرضه خدمات به موقع و متوازن، نه تنها سبب توسعه، شگوفایی، رشد اقتصادی، اجتماعی و فرهنگی کشور می گردد، بلکه شهروندان را به آینده مرفع نیز امیدوار می سازد. مردم افغانستان در بیش از چهار دهه گذشته، جنگ های تحمیلی، تجاوزات قدرت های سلطه طلب و انواع خشونت ها را تجربه کرده و در این میان علاوه بر تلفات مالی و انسانی، شاهد تخریب، زیرساخت ها و تاسیسات کشور نیز بوده اند و حالا با استقرار امارت اسلامی، زمینه بازسازی و بهسازی جاده ها و شاهراه ها و دیگر تأسیسات نیز مساعد گردیده است. هرچند در جریان پنج سال گذشته، علاوه بر عرضه خدمات، اجتماعی، اقتصادی و فرهنگی، پروژه های ملی و منطقوی، پروژه های حیاتی و شاهراه های زیاد نیز، توسعه یافته و بازسازی گردیده که نمی شود این دستاورد ها را نادیده گرفت. اما با تأسف در برخی از موارد، دیده می شود که محدود شرکت های قرار دادی، در کار ساخت و ساز جاده ها، آن هم در کار شاهراه های ترانزیتی و حیاتی مانند؛ شاهراه کابل ـ پروان که روزانه وسایط بیش از ۱۳ ولایت شمالی از این مسیر استفاده می نمایند، تعلل میکنند که این عدم توجه، سبب بروز ازدحام و مشکلات ترافیکی، ضیاع وقت راکبین، مصرف بیش از حد مواد سوخت وسایط نقلیه و صد ها مشکلات دیگر گردیده است.

به گونه مثال ؛ پیش از عید سید قربان لین دوم شاهراه کابل - پروان، از پل صوفیان الی بازار قلعه مراد بیگ، که در حدود دو کیلومتر را در بر می گیرد، توسط شرکتی یا نهادی، بخاطر بازسازی و بهسازی، کندنکاری شده و از آن زمان الی اکنون کار آسفالت این قسمت شاهراه به بسیار کندی به پیش می رود که ادامه این وضعیت سبب نگرانی شهروندان شده است، زیرا از اثر بندش این جاده، ساعت ها، وسایط مسافر بری و باربری، متوقف و راکبین آنان بامشکلات زیادی مواجه می گردند که نباید در جاده ای که زیرساخت آن تکمیل بوده و صرف با یک و یا دو لایه آسفالت، کارش تمام می شود، این قدر زمان ببرد.

از اینرو شهروندان کشور از مسئولین ذیربط به ویژه از وزارت فواید عامه، انتظار دارند تا در راستای سرعت کار باز سازی این جاده، بازنگری کنند و علل کندی کار اسفالت این جاده را به بررسی بگیرند، تا راکبین این مسیر از بلاتکلیفی رهایی یابند، زیرا کندی کار بازسازی شاهراه ترانزیتی کابل ـ شمال که روزانه هزاران وسایط باربری و مسافربری از این مسیر، عبور و مرور می کنند، ضربه مهلکی، نه تنها بر اقتصاد کشور است، بلکه مسافران این مسیر را نیز با مشکلات زیادی مواجه ساخته است. زیرا با اندک سکتگی در جریان ترافیک جاده، آن هم در این شاهراه ترانزیتی، ساعت ها جریان ترافیک مختل و مسدود می گردد که با تأسف زیان این همه مشکلات را بیشتر از همه، شهروندان و تجار کشور متقبل می شوند، زیرا با مسدود شدن شاهراه ها نه تنها شهروندان متحمل خسارات مالی و روحی می گردند، بلکه اموال تجار به ویژه میوه های تازه، فاسد و تجار ملی خساره مند می شوند.

بناءً کار بازسازی و اسفالت این جاده به هر نهاد و شرکتی که سپرده شده، باید مسئولان در وزارت فواید عامه ، دلیل کندی و طولانی شدن این قسمت جاده را از نزدیک بررسی کنند و به حل آن بپردازند، زیرا ما در فصل برداشت محصولات زراعتی به ویژه میوه های تازه، قرار داریم و شاهراه کابل_ مزار شریف نیز، قطعاً به حیث شاهرگ اقتصادی کشور پنداشته می شود و این شاهراه نه تنها ولایات جنوبی را به ولایات شمالی وصل می کند، بلکه آسیای میانه را نیز به آسیای جنوبی وصل می نماید.

از اینرو باید کار بازسازی و اسفالت این شاهراه نظر به اهمیت اجتماعی و اقتصادی آن در اولویت قرار گیرد.

د هېواد نفوس څه باندې ...

د نفوسو د دې اټکل له مخې د ۳۴ ولایتونو له ډلې له ټولو ډېر وګړي په کابل کې ژوند کوي چې شمېر یې ۶.۴ میلیونو ته رسېږي، د ده په خبره، د کابل د نفوسو له دې ډلې ۳.۳ میلیونه وګړي نارینه او ۳.۱ میلیونه یې ښځینه دي. د ولایتونو په قطار کې د نفوسو د ګڼې ګونې له اړخه هرات دویم ولایت دی چې ۲.۴ میلیونه وګړي پکې ژوند کوي، حلیم ویلي: له دې ډلې ۱.۲۳ میلیونه نارینه او ۱،۲ میلیونه ښځینه وګړي دي. له دې سره یوناما هم د نفوسو د نړیوالې ورځې په مناسبت پر فېسبوکپاڼې لیکلي، چې د نړۍ نفوس وده کوي، د نفوسو د زیاتوالي د لړۍ دوام، د اقلیم بدلون او د دوامدار پرمختګ ترمنځ اړیکه له بل هر وخته ډېره مهمه شوې ده. د یوناما په وینا، افغانستان هم په دې برخه کې د پام وړ ننګونو سره مخ دی. که څه هم افغانستان د نړۍ د شنو خونو د ګازونو اېستنه کې یوازې ۰.۰۱ سلنه ونډه لري، خو بیا هم د اقلیم د بدلون لپاره په نړۍ کې یو له خورا زیان منونکو هېوادونو څخه دی. د دغې ادارې د معلوماتو له مخې، د افغانستان نفوس به په ۲۰۲۶ کال کې ۴۸.۶ میلیونو ته ورسېږي.

د خپلوۍ پالنې ارزښت

عمران مهاجر

خپلوي د دین یو مهم اصل دی، نو اول باید خپلوي وپېژنو:
خپلوي تعلق او نسب پاللو ته وایي.
اوس به خپلوان وپېژنو:
اول دا چې خپلوان څوک دي؟
خپلوان اصولو او فروعو ته وایي. یعنې څوک چې هم له پورته خوا (له مور او پلار څخه) تعلق په نسب کې لري او هم کښته، خو دلته یوه خبره دا ده چې له دغو محدودو کسانو نه غیر ایا نور خپلوان نه دي؟ نه هغه هم خپلوان دي، ځکه دا نور خلک چې ستا اصولو او فروعو کې نه راځي، خو تعلق دې ورسره دومره شته لکه له اصولو او فروعو سره چې دی، نو لهذا دغه خلک هم ستا په خپلوانو کې راغلل، ځکه د خپلوۍ علت هغه نسبي تعلق دی او دا تعلق په دوی شته.
اوس هغه څوک چې خپلوي قطع کوي، د دغه انسان په اړه نبي علیه السلام فرمایلي: جنت ته هغه څوک نه داخلېږي چې هغه خپلوي قطع کوي.
دا حدیث یوازې دا نه رامعلوموي چې د خپلوۍ پرېښودونکی به جنت ته نه ځي، بلکې د خپلوۍ د اهمیت لپاره دا یو حدیث هم کفایت کوي چې اهمیت او ارزښت یې ورڅخه رامعلومېږي.
چې الله تعالی یې په اړه فرمایلي دي.
ژباړه: که تاسو واکمن شئ، ایا دا به ونه کړئ چې په ځمکه کې فساد وکړئ او د خپلوۍ اړیکې پرې کړئ؟
همدوی هغه کسان دي چې الله پرې لعنت کړی دی.
همداراز نبي علیه السلام یې هم په اړه داسې فرمایلي.
ژباړه: څوک چې پر الله او د آخرت پر ورځ ایمان لري، باید له خپلو خپلوانو سره اړیکې وساتي.
او بله داچې د خپلوۍ قطع کول له لویو ګناهونو څخه هم شمېرل شوي ده.
په بل حدیث کې راځي. ژباړه: الله تعالی مخلوقات پیدا کړل. کله چې د پیدایښت کار بشپړ شو، نو رحم (خپلوي) راپورته شوه او د رحمن د حقو (ازار/کمر بند ځای) پورې یې پناه ونیوله. الله تعالی وفرمایل: څه غواړې؟ هغې وویل: دا د هغه چا ځای دی چې د خپلوۍ له پرې کېدو څخه ستا پناه غواړي. الله تعالی وفرمایل: آیا ته په دې نه راضي کېږې چې څوک تا وصل کړي، زه به یې وصل کړم او څوک چې تا پرې کړي، زه به یې پرې کړم؟ هغې وویل: ولې نه، راضي یم. الله تعالی وفرمایل: همداسې به وي.
په بل حدیث کې هم نبي علیه السلام داسې فرمایل:
ژباړه: څوک چې غواړي رزق یې پراخ او عمر یې برکتناک شي، نو د خپلوۍ اړیکې دې وساتي.
همداسې ګڼ شمېر حدیثونه یې په ساړه راغلي دي چې د پرې کولو عذابونه او د پاللو بدلې پکې بیان شوي دي.
د خپلوۍ د قطع کولو تاوان هغه وخت سړی احساسوي چې کله مړ شي او په جنازه کې دې یوازې وروڼه او یو څو ملګري که وفادار پاتې وو ولاړ وي، نور به هېڅوک نه وي.
چې دا به هم د کورنۍ او هم د ورونو لپاره پېغور وي او ټول خاندان به پرې بد یادېږي.
همداراز خپلوان له چا سره کوم قومي تعصب نه لري، ځکه ټول له یو قوم څخه دي.
نو له قطع الرحم څخه باید ځان وساتل شي او باید چې له دواړو خواوو څخه د مینې او محبت فضا رامنځته شي چې په پای کې یو بل ملامت نه کړو.
دا یو څو ګټورې جملې کولی شي چې په منلو سره یې ستاسو په ژوند کې مثبت بدلون راولي.

پکتیا کې د امربالمعروف...

او اصولو د تطبیق په موخه میلیونونه کسان شهیدان، یتیمان او معیوب شول. ښاغلي حنفي وویل: اوس د دې وخت را رسېدلی چې د اسلامي شریعت د تطبیق لپاره لاسونه سره یو کړو او په ټولنه کې د اسلامي شریعت د تطبیق او د منکراتو د مخنیوي په موخه د امر بالمعروف او نهی عن النکر قانون تطبیق کړو. امر بالمعروف، نهی عن المنکر او د شکایتونو د اورېدنې وزیر پر دیني علماوو او د سویل ختیځ زون په کچه د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاستو پر رئیسانو غږ وکړ: ستاسو مسئولیت دا دی، چې حق بیان کړئ، په ټولنه کې د منکراتو مخه ونیسئ، د دین ساتنې، په ټولنه کې د امر بالمعروف قانون او د اسلامي شریعت تطبیق ته کار وکړئ. د پکتیا والي ښاغلي ملا مهر الله حماد بیا وویل، چې زموږ مسئولیت دا دی، چې له دې موقع څخه استفاده وکړو، یو بل ته لاسونه ورکړو، تر څو د ولس فکر او عقیده په اسلامي اصولو سره ورزو او اسلامي شریعت له ښاره تر ولسوالیو او کلیو ورسوو. د سویل ختیځ زون په کچه یو شمیر دیني علماوو د امر بالمعروف، نهی عن المنکر او د شکایاتو د اورېدنې وزارت کړنې او فعالیتونه وستایل او داډ یې ورکړ، چې د منکراتو د مخنیوي، د اسلامي شریعت او د یاد قانون د تطبیق لپاره به کار وکړي. د یادونې وړ ده، چې په غونډه کې د امر بالمعروف، نهی عن المنکر او د شکایاتو د اوریدنې وزیر شیخ محمد خالد حنفي، د پکتیا والي مهرالله حماد، د پکتیا د علماوو شورا رئیس مولوي صالح محمد فقیري، د اطلاعاتو او فرهنګ رئیس مولوي فیض الله جوهري، د سویل ختیځ زون د امر بالمعروف رئیسانو، علماوو کرامو، محتسبینو او قومي مشرانو ګډون کړی و.

افغان اعلانات

اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسیله به تأسی از فقره (۲) ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده میشود، وزارت ارشاد، حج و اوقاف در نظر دارد تا پروژه اعمار یک محراب مسجد شریف در اداره محترم گمرک واقع میدان هوایی کابل.

خویش را به شرکت لوژستیکی و ساختمانی الماس حبیب دارنده جواز نمبر (۶۳۵۵۵) احمدزی پلازا مرکز، میدان شهر وردک.

به قیمت مجموعی مبلغ (۵۵۴۴۵۴۴) پنج میلیون و پنجصد و چهل و چهار هزار و پنجصد و چهل و چهار افغانی اعطاء نماید.

اشخاص حقیقی و حکمی که هر گونه اعتراض در زمینه داشته باشند، میتوانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر اعلان الی هفت روز تقویمی طور کتبی توأم با دلایل آن به ریاست تدارکات وزارت ارشاد، حج و اوقاف وفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات ارائه نمایند.

این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

***

اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسیله به تأسی از فقره (۲) ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده میشود، وزارت ارشاد، حج و اوقاف در نظر دارد تا پروژه اعمار یک محراب مسجد شریف در وزارت محترم امور داخله ا.ا.ا.

خویش را به شرکت ساختمانی شاین کریستال دارنده جواز نمبر (D-38242) مرکز میدان شهر، مرکز، میدان شهر وردک. به قیمت مجموعی مبلغ (۱۲۲۸۰۶۸۰) دوازده میلیون و دو صد و هشتاد هزار و شش صد و هشتاد افغانی اعطاء نماید.

اشخاص حقیقی و حکمی که هر گونه اعتراض در زمینه داشته باشند، میتوانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر اعلان الی هفت روز تقویمی طور کتبی توأم با دلایل آن به ریاست تدارکات وزارت ارشاد، حج و اوقاف وفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات ارائه نمایند.

این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

***

اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسیله به تأسی از فقره (۲) ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده میشود، وزارت ارشاد، حج و اوقاف در نظر دارد تا پروژه اعمار یک محراب مسجد شریف در اداره محترم گمرک واقع میدان هوایی کابل.

خویش را به شرکت لوژستیکی و ساختمانی الماس حبیب دارنده جواز نمبر (۶۳۵۵۵) احمدزی پلازا مرکز، میدان شهر وردک.

به قیمت مجموعی مبلغ (۵۵۴۴۵۴۴) پنج میلیون و پنجصد و چهل و چهار هزار و پنجصد و چهل و چهار افغانی اعطاء نماید.

اشخاص حقیقی و حکمی که هر گونه اعتراض در زمینه داشته باشند، میتوانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر اعلان الی هفت روز تقویمی طور کتبی توأم با دلایل آن به ریاست تدارکات وزارت ارشاد، حج و اوقاف وفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات ارائه نمایند.

این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

***

اعلان اجاره دهی

وزارت ترانسپورت و هوانوردی، مساحت ۲ مترمربع جای واقع منزل اول ترمینل محلی میدان هوائی بین المللی کابل را به منظور فعالیت یکپایه ماشین بسته بندی بگاژ مسافرین به اجاره می دهد.

اشخاص حقیقی حکمی که خواهش به إجاره گرفتن مساحت متذکره را از طریق روند مزایده داشته باشند می توانند از تاریخ نشر اعلان تا ۱۰ روز، درخواستی خویش را به آمریت املاک هوانوردی و هواشناسی - ریاست املاک و خدمات وزارت ترانسپورت و هوانوردی، واقع انصاری وات - شهر کابل بسپارند.

***

اعلان اجاره دهی

وزارت ترانسپورت و هوانوردی، مساحت ۳ جریب زمین (دارای تأسیسات مشتمل بر دوباب اطاق، آشپزخانه، جای ذخایر تیل و یک حلقه چاه) واقع میدان هوائی کندز را به منظور فعالیت تیل دهی به اجاره می دهد.

اشخاص حقیقی و حکمی که خواهش به إجاره گرفتن مساحت متذکره را از طریق روند مزایده داشته باشند می توانند از تاریخ نشر اعلان تا ۱۰ روز، درخواستی خویش را به آمریت املاک هوانوردی و هواشناسی - ریاست املاک و خدمات وزارت ترانسپورت و هوانوردی، واقع انصاری وات - شهر کابل بسپارند.

***

اعلان مفقودی

یک جلد کتابچه صفایی مربوط ناحیه ۵ کمپنی ایستگاه بلاک ها به اسم سید الحق ولد سید سکندر مفقود گردیده از اعتبارساقط است. ۳۴۵۰

***

اعلان مفقودی

یک جلد کتابچه صفایی مربوط ناحیه پنجم واقع چهار راهی قمبر به اسم محمد نادر ولد موسی محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط است. ۳۴۴۵

اطلاعیه داوطلبی

وزارت معادن و پترولیم ساحات معدنکاری ذیل را جهت عقد قرارداد معدنکاری به مقیاس بزرگ به داوطلبی می سپارد، داوطلبان اعم از داخلی و خارجی می توانند جهت اشتراک در پروسهٔ داوطلبی اظهارنامه علاقمندی و پرسشنامهٔ ارزیابی قبلی اهلیت را از ویب سایت (lsmmd.momp.gov.af) و یا از ریاست عمومی کادستر و تطبیق قرارداد ها، وزارت معادن و پترولیم، واقع چهار راهی مکروریان کابل- افغانستان دریافت نموده و بعد از خانه پری الی تاریخ ۱۴ اسد ۱۴۰۵ به آمریت ارزیابی داوطلبی، ریاست عمومی کادستر و تطبیق قرارداد ها تسلیم نمایند.

مشخصات ساحات معدنکاری					
شماره	اسم پروژها	ولسوالی	ولایت	نوع مواد	مساحات به کیلومتر مربع
1	محدوده سوم مرکیخیل	شیرزاد	ننگرهار	تالک	۹.۵۰۱۴۳۰

ترتیب کننده: آمریت ارزیابی و داوطلبی — منظور کننده: ریاست عمومی کادستر و تطبیق قرارداد ها

اطلاعیه داوطلبی

وزارت معادن و پترولیم ساحات معدنکاری ذیل را جهت عقد قرارداد معدنکاری به مقیاس بزرگ به داوطلبی می سپارد، داوطلبان اعم از داخلی و خارجی می توانند جهت اشتراک در پروسهٔ داوطلبی اظهارنامه علاقمندی و پرسشنامهٔ ارزیابی قبلی اهلیت را از ویب سایت (lsmmd.momp.gov.af) و یا از ریاست عمومی کادستر و تطبیق قرارداد ها، وزارت معادن و پترولیم، واقع چهار راهی مکروریان کابل- افغانستان دریافت نموده و بعد از خانه پری الی تاریخ ۳۰ سرطان ۱۴۰۵ به آمریت ارزیابی داوطلبی، ریاست عمومی کادستر و تطبیق قرارداد ها تسلیم نمایند.

مشخصات ساحات معدنکاری					
شماره	اسم پروژها	ولسوالی	ولایت	نوع مواد	مساحات به کیلومتر مربع
1	مواد اولیه تولید سمنت ساحه قزل سای	علی آباد	کندز	سمنت	۱۰.۱۱۵۶۴۴

ترتیب کننده: آمریت ارزیابی و داوطلبی — منظور کننده: ریاست عمومی کادستر و تطبیق قرارداد ها

افتتاح ساختمان جدید مدرسهٔ «دارالعلوم توتاخېل»...

و مسئولیت خود را در آبادی و ثبات کشور به خوبی انجام دهند. در این مراسم مولوی نجم‌الرحمان فضلی مسئول مدرسهٔ «دارالعلوم توتاخېل» در صحبت هایش گفت که این ساختمان با هزینهٔ ۴میلیون و۷۰۰هزار افغانی، در مدت یک سال با تمام امکانات لازم ساخته شده‌است و ظرفیت پذیرش نزدیک به ۷۰۰ طالب‌العلم را دارد.

دوحه کې د راستنېدونکو کډوالو پر ستونزو ...

په خپره کړې خبرپاڼه کې ویلي، چې په دې لیدنه کې دواړو لوریو د هغو افغان کډوالو د ستونزو او اړتیاوو په اړه هر اړخیز بحث کړی، چې په وروستیو میاشتو کې له ایران او پاکستان څخه هېواد ته راستانه شوي دي. د خبرپاڼې له مخې، په غونډه کې د راستنېدونکو کډوالو لپاره د سرپناه برابرولو، د روغتیایي او ښوونیزو خدمتونو د پراختیا، د معیشتي فرصتونو د رامنځته کولو او د کاري زمینو د برابرولو پر اهمیت ټینګار شوی دی، ترڅو راستنې شوې کورنۍ وکولای شي خپل عادي ژوند ببرته پیل کړي. په دې لیدنه کې د هغو راستنو شویو کډوالو شکایتونه او ستونزې هم وڅېړل شوې، چې د دوی په وینا، شتمنۍ او ملکیتونه یې په ناقانونه توګه ضبط شوي دي. دواړو لوریو د دغو ستونزو د حل او د اغېزمنو کورنیو د حقونو د خوندي کولو پر اړتیا خبرې وکړې. بل لور ته، د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو د عالي کمېشنرۍ استازي برهم صالح د افغان کډوالو د وضعیت په اړه خپله اندېښنه څرګنده کړه او ډاډ یې ورکړ، چې د دغو ننګونو د هوارۍ او راستنېدونکو کورنیو ته د لازمو مرستو د رسولو لپاره به خپلو هڅو ته دوام ورکړي. دا لیدنه داسې مهال ترسره کېږي، چې په وروستیو میاشتو کې له ایران او پاکستان څخه د افغان کډوالو د راستنېدو بهیر چټک شوی او د سرپناه، روغتیا، زده‌کړو او د کارموندنې په برخو کې د هغوی اړتیاوې زیاتې شوې دي.

حکیم رهبر له هرې پرېکړې وړاندې خپل دیني...

په ګټه نه دی. موږ باید اول له ځانه دا پوښتنه وکړو، چې آیا سمدستي غبرګون ښودل زموږ د هېواد، ملي منافعو، نظام او راتلونکي په ګټه دي او که په تاوان؟ او که د دښمن په جوړ کړي دام کې راګیر کېږو؟

ګوري درنو هېوادوالو! موږ باید له هر څه وړاندې خپل لومړیتوبونه وپېژنو او د هغو د پوره کولو لپاره لاس پکار شو، چې هغه د اقتصاد احیا، پوخ پر پښو درول، له نړۍ سره متوازنو اړیکو ته پراختیا ورکول، د دولتي ادارو پیاوړتیا او د تعلیم کچه لوړول دي، تر څو د دښمن پر وړاندې قوي او مسلکي شو. همدارنګه، موږ باید دښمن ته د دې اجازه ورنکړو چې هغوی موږ ته اجنداوې او لومړیتوبونه وټاکي. موږ باید د خلکو د احساساتو لپاره د دښمن په جوړې کړې لومې کې ښکېل نه شو. موږ باید د غوسې او انتقام پر ځای، د عقل او محاسبې پر بنسټ پرېکړې وکړو. هر اقدام مو باید د یوه لوی او اوږدمهاله ملي ستراتېژیک پلان له مخې وي. د زمري یو قدم شاته تګ د هغه د ماتې په معنی نه وي، بلکې د یوې قوي حملې لپاره وي. کله کله د دښمن پاروونکي برید ته ځواب نه ورکول د کمزورۍ په معنی نه وي، بلکې د ځواک، اعتماد او پر ځان د کنټرول نښه وي، ځکه بریالي رهبران غواړي چې جګړه په خپل ټاکلي وخت، ځای او خپلو شرایطو ترسره کړي، نه د دښمن په خوښه.

موږ افغانان باید له تاریخه زده کړه وکړو، ځکه موږ په تېرو څو لسیزو کې ترخه تجربه ترلاسه کړې، چې د دښمن په خوښه د جګړې میدان ته ننوتي وو. وخت، ځای او د جګړې نوع هغوی راته ټاکلي وه، نو ځکه مو په میلیونونو شهیدان، کونډې، یتیمان، معیوب او معلول ورکړل، خو اوس للـه الحمد؛ اسلامي امارت د دښمن په ټولو شومو موخو پوه شوی او له تېرو ترخو تجربو څخه په استفادې خپل هېوادوال نه پرېږدي، هغو جګړو ته داخل شي، چې وخت، ځای او نوع یې دښمن ټاکلي وي. همداراز، د دښمن هر برید او پاروونکي عمل ته په وخت او مناسب ځواب ورکوي.

اسلامي امارت خپلو هېوادوالو ته ډاډ ورکوي، چې قایم اسلامي نظام او مسئولین یې د دې هېواد اصیل بچیان او ستاسې اولادونه دي، دوی د خپل هېواد ابادۍ، امنیت او پرمختګ ته ژمن دي او د الله تعالی په مرسته به د دې هېواد ټولو دښمنانو ته په مناسب وخت کې مناسب ځواب ورکړي.

د اسلامي امارت چوپتیا؛ د کمزورتیا په معنی نه ده، بلکې دوی نه غواړي په هغو جګړو کې ځانونه ښکېل کړي، چې د کومو وخت، ځای او نوع دښمن ټاکلي وي. د اسلامي امارت هوښیاره رهبري د دښمن ټولو شومو پلانونو ته په کتو، هماغسې بالعکس عمل کوي او ټول شوم پلانونه یې په نطفه کې خنثی کوي او هاغه ورځ لرې نه ده چې اسلامي امارت به د خپلو هېوادوالو د څاځکي څاځکي اوښکو او وینو بدل په څو برابره له دښمن څخه واخلي. ان شاءالله تعالی

د کرنې وزیر په هند کې د سوداګریزو فرصتونو غونډې...

مشرانو، صادروونکو، پانګوالو او د دواړو هېوادونو له سلو څخه زیاتو اقتصادي فعالانو ګډون کړی و. دغه‌راز د غونډې ګډونوالو د کرنې، خوراکي صنایعو، مالدارۍ، اوبو لګولو، کرنیزو ټکنالوژیو، نوې کېدونکې انرژۍ، زېربناوو او نورو اقتصادي برخو کې د همکاریو ظرفیتونه ارزولي او د افغانستان او هند د خصوصي سکټورونو ترمنځ د سوداګریزو اړیکو پر پیاوړتیا، د پانګونې پر زیاتوالي او د نویو مشارکتونو پر رامنځته کولو یې ټینګار کړی دی. د یادونې وړ ده، چې د دغې غونډې جوړېدل، د افغانستان د کرنې د وزیر د هندي چارواکو له دلې د هند د کرنې او بزګرانو د هوساینې له وزیر او د دغه هېواد د مالي او پراختیایي بنسټونو له مسئولینو سره د رسمي لیدنو په دوام، د افغانستان او هند ترمنځ د دوه‌اړخیزو همکاریو د پراختیا او د کرنې، سوداګرۍ او پانګونې د ودې لپاره د نویو فرصتونو د برابرولو په لړ کې یو بل مهم ګام بلل کېږي.

جامعه جهانی نباید ...

مناسب برای فعالیت سازمان‌های بین‌المللی ضروری است. او همچنین خواستار کاهش تنش میان افغانستان و پاکستان شد و گفت که اختلاف‌های دو کشور باید از راه گفتگو حل‌وفصل شود، زیرا ادامه این تنش‌ها به سود هیچ‌یک از دو کشور و منطقه نیست.

رئیس کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهندگان همچنین درباره بازگشت مهاجران افغان از کشورهای همسایه گفت که این روند باید داوطلبانه، مصئون و همراه با کرامت انسانی باشد. او افزود که سازمان ملل متحد با ایران و پاکستان در تماس است و بر رعایت تعهدات بین‌المللی این کشورها در قبال پناهندگان و بازگشت داوطلبانه، ایمن و باعزت مهاجران افغان تأکید می‌کند.

تطبیق پروژه حفاظت...

از بودجه انکشافی وزارت اطلاعات و فرهنگ امارت اسلامی افغانستان تطبیق شده‌است. حیدری می‌افزاید که با تطبیق این پروژه، در کنار حفاظت از مهمانخانه منار جام، برق و آب آشامیدنی این مکان نیز تأمین شده‌است. این در حالیست که پس از روی کار آمدن امارت اسلامی افغانستان، تاکنون چندین پروژه کوچک و بزرگ به‌منظور حفاظت از منار تاریخی جام و ایجاد سهولت‌های گردشگری در این ساحه از سوی وزارت اطلاعات و فرهنگ تطبیق شده و اکنون کار چندین پروژه دیگر نیز در ساحه یادشده جریان دارد.

د پغمان درې سړک...

چمتووالي اداري همداراز ویلي چې دا پروژه د ۲/۳ کیلومترو په اوږدوالي او له ۶ څخه تر ۷ مترو په پلنوالي سره د دوو اسکواټرونو او دوو لویو دمټرک موټرو په وسیله پلې کېږي. د یادولو وړ ده چې د دې پروژې په بشپړېدو سره به د سیمې د اوسېدونکو لپاره د خوندي او اسانه تګ راتګ زمینه برابره او د دې سیمې د بنسټیزو ستونزو یوه برخه به هواره شي.

لوګر د غنمو د اصلاح...

د دغو شرکتونو تولیدي ظرفیت او د محصول کیفیت هم لوړ شوی دی. د کرنې ریاست ټینګار کړی چې د اصلاح شویو تخمونو تولید د کرنیزو حاصلاتو په زیاتوالي او د کرنې سکټور په پیاوړتیا کې مهم رول لري.

کابل؛ په تېرو دوو اوونیو...

ده زیاته کړه: د سندونو او وثیقو د ثبت درېیمې حوزې په همدې موده کې ۷۳ نکاح‌خطونه، ۱۱ زوجیت‌خطونه، ۸ زوجیت‌خطونه او ۱۳۵ نورې بېلابېلې وثیقې اجراء کړې دي. همدارنګه، د سندونو او وثیقو د ثبت څلورمې حوزې په تېرو دوو اوونیو کې ۷۵ نکاح‌خطونه، ۳۳ قبالې، ۶ زوجیت‌خطونه او ۷۳ نورې بېلابېلې وثیقې اجراء کړې دي. د نومورې په وینا، د سندونو او وثیقو د ثبت پنځمې حوزې په یاده موده کې ۸۶ نکاح‌خطونه، ۲۹ قبالې، ۷ زوجیت‌خطونه او ۹۶ نورې بېلابېلې وثیقې اجراء کړې دي. همدارنګه، د سندونو او وثیقو د ثبت شپږمې حوزې په تېرو دوو اوونیو کې ۸۵ نکاح‌خطونه، ۲ قبالې، ۸ زوجیت‌خطونه او ۷۶ نورې بېلابېلې وثیقې اجراء کړې دي. بله خوا، د پوهنتون استاد او دیني عالم، مولوي رکن‌الدین مخلص، شریعت ورځپاڼې ته وویل: اسلامي امارت د افغانانو لپاره یو ستر نعمت دی او خلک باید د دغه نعمت شکر ادا کړي. ده زیاته کړه، چې د هېوادوالو چارې په بېلابېلو دولتي ادارو کې په ښه ډول ترسره کېږي او خلک له وړاندې کېدونکو خدماتو څخه خوښ دي. **سمیع الله مومند**

د کندهار لرې پرتې ...

میوند او میانشین ولسوالیو لویې لارې د څه باندې دوه میلیونه ډالرو په ارزښت د کندهار له مرکز سره نښلولې دي.

د مسئولینو په خبره، د ۳۶۵ میلیونو افغانیو په ارزښت یې د کندهار له مرکز سره د دغه ولایت د ښورابک ولسوالۍ د سړک د نښلولو پروژه پیل کړې او پلان لري، چې د غورک او معروف ولسوالیو لارې هم د سږ کال تر پایه د کندهار له مرکز سره ونښلوي، چې د خلکو پر ژوند به مثبتې اغېزې وکړي. د کندهار د کلیو د بیارغونې او پراختیا ریاست انجنیر، عظمت الله راحت ویلي: «موږ په تېرو پنځو کلونو کې د کندهار، میانشین او د ښکته او لوړ شاولیکوټ لویې لارې رغولې او له مرکز سره مو نښلولې دي. سږ کال هم پلان لرو، چې د ښورابک لاره بشپړه کړو، اوس یې کار پیل شوی او د معروف او غورک ولسوالیو لارې هم وصل کړو، چې په دې سره به خلکو ته ډېرې اسانتیاوې برابرې شي.» د کندهار د لرې پرتو سیمو اوسېدونکي د لویو لارو رغونه خپله بنسټیزه غوښتنه بولي او همداراز په خپلو سیمو کې د نورو رغنیزو پروژو د پلي کېدو غوښتنه کوي. د مسئولینو په خبره، له ښارونو سره د اطرافي سیمو د لارو نښلول سوداګرۍ ته وده ورکوي، د کرنیزو محصولاتو لېږد اسانه کوي او د سیمو ترمنځ اقتصادي او ټولنیزې اړیکې پیاوړې کوي.

بلخ کې د غنمو حاصلات...

پراخوالي او د اوبو د ښه موجودیت له امله رامنځته شوی دی.

د بلخ د کرنې ریاست ویلي، چې سږ کال په دغه ولایت کې پر څه باندې ۱۸۰ زره هکتاره للمي او اوبیزه ځمکه غنم کرل شوي وو، چې د مناسب اقلیمي وضعیت او د کرنیزو ځمکو د پراختیا له امله یې د حاصل کچه لوړه شوې ده. د کرنې ریاست د شمېرو له مخې، تېر کال په بلخ کې څه باندې ۲۰۵ زره متریک ټنه غنم تولید شوي وو، خو سږ کال د تولید کچه نږدې ۶۵ سلنه لوړه شوې ده.

بله خوا، یو شمېر کروندګر وایي: که څه هم د غنمو حاصلات ښه شوي، خو لا هم د کیمیاوي سرو د لوړو بیو، د اوبو د کمښت او د کرنیزو توکو د برابرولو په برخه کې له ستونزو سره مخ دي. کروندګر له اړوندو ادارو غواړي، چې د کرنیزو اړتیاوو د پوره کولو، د اوبو د مدیریت او د اصلاح شویو تخمونو د برابرولو په برخه کې لا ډېر ملاتړ وکړي، څو د غنمو تولید نور هم زیات او د هېواد د خوړو خوندیتوب پیاوړی شي. د بلخ ولایت د غنمو د تولید زیاتوالی داسې مهال دی، چې کرنه د دغه ولایت د اقتصادي فعالیتونو له مهمو برخو څخه شمېرل کېږي او د غلو دانو زیات تولید د کورني تولید د پیاوړتیا لپاره مهم بلل کېږي.

ګشایش سومین نمایشگاه...

استفاده از تولیدات داخلی، آن را گام مهم در راستای رشد صنعت، ایجاد فرصت‌های شغلی و توسعه اقتصادی کشور عنوان کردند. آنان خواستار حمایت بیشتر از تولیدکنندگان داخلی و فراهم‌شدن زمینه‌های بهتر برای عرضه محصولات افغانستان در بازارهای داخلی و خارجی شدند.

هرات او فراه کې د ...

د وزارت د معلوماتو له مخې، د دې پروژې په پلي کېدو سره به د روغتیا په برخه کې ۷۲ کسانو ته د کار زمینه هم برابره شي، چې دا به د روغتیایي خدمتونو د وړاندې کولو ترڅنګ د کاري فرصتونو په رامنځته کولو کې هم مرسته وکړي. بل لور ته، د AADA مؤسسې استازو د ترون د لاسلیک پر مهال ډاډ ورکړ، چې یاده پروژه به د یو نیم کال په موده کې له ټولو ټاکل شویو معیارونو او اصولو سره سمه پلې کړي. دوی ټینګار وکړ، چې د پروژې د عملي کېدو پر مهال به د هرات او فراه ولایتونو د اوسېدونکو روغتیایي اړتیاوو ته ځانګړې پاملرنه وشي او هڅه به وشي چې د تغذیې خدمتونه په اغېزمن او معیاري ډول مستحقو کسانو ته ورسېږي. دا ترون په داسې حال کې لاسلیکېږي، چې د عامې روغتیا وزارت د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې د روغتیایي خدمتونو د پراختیا، د خوارځواکۍ کچې د راکمولو او روغتیایي خدماتو ته د خلکو د لاسرسي د زیاتولو لپاره د کورنیو او نړیوالو همکارو بنسټونو په ملاتړ خپلې پروژې دوامدارې ساتلې دي.

شریعت
د امارتي ورځپاڼو رئیس:
انجنیر عُزیر بریالی / ۰۲۰۲۵۲۶۳۴۰
مسئول مدیر: محمد منیر فاروقي / ۰۷۶۴۸۰۸۲۰۵
مسئول سکرتر: رفیع الله رؤفي/ ۰۷۹۵۰۰۰۳۱۰
ډیزاین: محمدیوسف حیدري / ۰۷۹۴۹۸۹۶۹۸
د شریعت برښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: اتمه ناحیه، د المپیک څلور لارې، د حضوري چمن ختیځ، کابل ـ افغانستان
شماره توزیع و شکایات: ۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹ / ۰۷۶۶۰۴۴۹۶۶/ ۰۷۳۱۶۰۶۰۷۳

Shariat
Published by
Islamic Emirate of Afghanistan
Eng, Uzair Baryaly , Director of Gov.dailies
0202526340
Chief Editor : M. Munir Farooqi
Email: info@shariatdaily.com
WWW.shariatdaily.com ویب سایت:

Shariat Daily

Sunday 12 July 2026 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 1104

بازدید وزیر معادن و پترولیم از روند پیشرفت کارهای ساختمانی سمنت صفوان

الحاج ملا هدایت‌الله بدری، وزیر معادن و پترولیم، از روند اجرای کارهای ساختمانی فابریکه سمنت صفوان ولایت پروان دیدار کردند. وزیر معادن و پترولیم بخش‌های مختلف فابریکه را از نزدیک مورد بررسی قرار داده و روند فعالیت‌ها، ظرفیت تولید و میزان پیشرفت این پروژه را ارزیابی کردند و بر رعایت معیارها، تسریع روند ساختمان و تکمیل به‌موقع پروژه در زمان تعیین‌شده تأکید نمودند. مسئول پروژه مذکور معلومات مفصلی در مورد پیشرفت کارهای ساختمانی فابریکه ارائه کرده و اظهار داشت که این فابریکه پس از آغاز بهره‌برداری، روزانه بین پنج تا نه هزار تُن سمنت تولید خواهد کرد و با آغاز فعالیت این پروژه برای حدود پنج هزار تن به‌گونه مستقیم و غیرمستقیم زمینه کار فراهم خواهد شد.

برهم صالح: جامعه جهانی نباید افغانستان را نادیده بگیرد

رئیس کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهندگان در نخستین سفرش به افغانستان، بر ادامه حمایت جامعه جهانی از مردم افغانستان، رسیدگی به بحران بازگشت مهاجرین و تداوم تعامل با امارت‌اسلامی تأکید کرده است. برهم صالح گفت که افغانستان از نظر امنیت منطقه‌ای و جهانی و نیز از منظر ارزش‌های بشردوستانه و حقوق بشر، از اهمیت ویژه‌ای برخوردار است. او گفت: «بدون هیچ تردیدی می‌گویم که تعامل ضروری است. ما نمی‌توانیم به افغانستان پشت کنیم. این کشور مهم است و مردم آن نیز اهمیت دارند. افزون بر این، افغانستان از نظر امنیت منطقه‌ای و جهانی و همچنین از منظر ارزش‌های بشردوستانه و حقوق بشر، جایگاه مهمی دارد.» رئیس کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهندگان با اشاره به دیدارهایش با مقام‌های امارت‌اسلامی افزود که برای گسترش همکاری‌های جامعه جهانی، فراهم شدن زمینه... ص۳

د کورنیو چارو وزیر د نرخ ولسوالۍ له قومي مشرانو او سپین ږیرو سره وکتل

د کورنیو چارو وزیر خلیفه سراج الدین حقاني د میدان وردګو ولایت د نرخ ولسوالۍ صدمردې سیمې ته په سفر کې د دې ولایت له یو شمېر سیمه ییزو مسئولینو، قومي مشرانو، سپین ږیرو او ځوانانو سره وکتل. د چارو اداري د پلان او ارزونې رئیس مولوي محمد نعیم نصرت، خلیفه صاحب ته د ښه راغلاست تر څنګ یادې سیمې ته د خلیفه صاحب په ورتګ خوښي څرګنده کړه. د سیمې اوسېدونکي او قومي مشر حاجي عین الدین ستانکزي، په جهادي بهیر کې د میدان وردګو په ځانګړې توګه د نرخ ولسوالۍ د اوسېدونکو د قربانیو یادونه وکړه او تېنګار یې وکړ، چې د میدان وردګو ټول ولس د اسلامي امارت له پرېکړو هرکلی کوي او ملاتړي یې دي. خلیفه صاحب دې غونډې ته په وینا کې د میدان وردګو د خلکو قربانۍ وستایلې او مجاهدینو ته یې له خلکو سره د نرم چلند سپارښتنه او ټینګار وکړ.

پکتیا کې د امر بالمعروف او نهي عن المنکر قانون د تطبیق په تړاو غونډه وشوه

د پکتیا د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست د غونډو په تالار کې د سویل ختیځ زون په کچه د امر بالمعروف، نهي عن المنکر او د شکایاتو د اورېدنې وزارت له لوري د یاد وزارت د قانون د تطبیق په موخه غونډه وشوه. په غونډه کې د امر بالمعروف، نهي عن المنکر او د شکایاتو د اوریدنې وزیر ښاغلي شیخ محمد خالد حنفي وویل، چې د اسلامي نظام د حاکمیت، شرعي نظام... ۲مخ

د هېواد نفوس څه باندې ۳۷ میلیونه اټکل شوی

د احصایې او معلوماتو عمومي ادارې سرګال د افغانستان نفوس ۳۷.۲ میلیونه اټکل کړي او ویلي یې دي چې د دې نفوسو ۴۹ سلنه ښځینه او ۵۱ سلنه نارینه وګړي دي.

د احصایې او معلوماتو د عمومي ادارې ویاند رفیع حلیم ویلي: د افغانستان نږدې ۷۰ سلنه وګړي په اطرافو یا کلیو کې ژوند کوي چې شمېر یې نږدې ۲۶ میلیونو کسانو ته رسېږي. د نوموړي د معلوماتو له مخې، همدارنګه د ټولو نفوسو ۲۶ سلنه وګړي بیا په ښارونو کې ژوند کوي چې شمېر یې ۹.۸ میلیونو ته رسېږي. دده په وینا د کوچیانو فیصدي ۴ ته رسېږي. ۲مخ

آغاز پروژه ماین‌پاکی با بودجه بیش از ۹۰ هزار دالر در پنجشیر

مسئولین محلی امارت اسلامی در پنجشیر از آغاز رسمی پروژه ماین‌پاکی با بودجه بیش از ۹۰ هزار دالر در این ولایت خبر دادند. سیف‌الدین لتون، سخنگوی مقام ولایت پنجشیر گفت که این برنامه به‌منظور محو ماین‌های به‌جامانده از دوران تجاوز شوروی سابق راه‌اندازی شده و در جریان آن، مناطق آلوده به ماین‌ها پاک‌سازی خواهد شد. این در حالیست که الحاج حافظ محمدآغا حکیم، والی ولایت پنجشیر، همواره در نشست‌های بزرگ مردمی، در کنار تعهد برای تطبیق پروژه‌های عمرانی برای شهروندان پنجشیر، در مورد تأمین امنیت، رفاه و آسایش آنان نیز اطمینان داده است. در همین حال، مولوی فیض‌الباری، رئیس اقتصاد پنجشیر گفت... ص۲

لوګر د غنمو د اصلاح شویو تخمونو د تولید برخه کې د پام وړ پرمختګ کړی

د لوګر د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست وایي: په دغه ولایت کې د اصلاح شویو غنمو د تخمونو د تولید او پروسس پنځه شرکتونه فعالیت کوي. د یاد ریاست په وینا، دغه شرکتونه هر کال شاوخوا ۸۰۰ متریک ټنه معیاري اصلاح شوي د غنمو تخمونه تولید او بازار ته وړاندې کوي. چارواکي وایي: د همکارو مؤسسو په مالي ملاتړ ... ۳مخ

تطبیق پروژه حفاظت از تأسیسات منار جام در غور

به‌منظور حفاظت از تأسیسات هوتل و مهمانخانه منار جام و جلوگیری از تخریب آن، یک پروژه حفاظتی در ولایت غور تطبیق شد. اسرائیل حیدری، آمر فرهنگ و گرځندوی ریاست اطلاعات و فرهنگ غور، می‌گوید که این پروژه شامل ساخت دیوار محافظتی به درازای ۱۲۰ متر و ارتفاع یک متر با کتاره، سیستم برق انرژی آفتابی و حفر یک حلقه چاه آب آشامیدنی می‌باشد که با هزینه یک‌میلیون و ۲۵۲ هزار و ۵۷۰ افغانی... ص۳

قالیباف: ایران به هېڅکله د امریکا پر وړاندې تسلیم نه شي

د ایران د پارلمان رئیس، محمدباقر قالیباف ویلي چې تهران به هېڅکله د واشنګټن پر وړاندې تسلیم نه شي او که امریکا له شویو هوکړو سرغړونه وکړي، ایران د هر اړخیزې دفاع لپاره بشپړ چمتووالی لري. قالیباف ویلي: «موږ هېڅکله د هېواد د دفاع لپاره له چمتووالي لاس نه دی اخیستی او که امریکایان له شته هوکړې څخه سرغړونه وکړي، هره شېبه د بشپړې دفاع لپاره چمتو یو.» نوموړي همدا راز ټینګار کړی، چې د جګړې پای ته رسېدل د نړۍ د ډېرو هېوادونو له لومړیتوبونو څخه دي، خو دا جګړه به هېڅکله د ایران په تسلیمېدو پای ته ونه رسېږي. دا څرګندونې داسې مهال کېږي، چې د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ له دې وړاندې ادعا کړې وه، چې تهران او واشنګټن د خبرو اترو پر دوام هوکړې ته رسېدلي، خو اوربند پای ته رسېدلی دی.

کشمیر کې د پاکستاني رژیم پر ضد لاریون

د پاکستان تر ولکې لاندې د کشمېر په بېلابېلو سیمو کې زرګونو لاریونوالو د پاکستاني ځواکونو د وتلو غوښتنه کړې او د بشري حقونو د سرغړونو او خپلسرو وژنو پر وړاندې یې احتجاج کړی دی. د معلوماتو له مخې، له نږدې یوې میاشتې راهیسې په کشمېر کې د پاکستاني ځواکونو د کړنو پر وړاندې پراخ لاریونونه روان دي. د پرون ورځې په لاریونونو کې ګډونوالو غوښتې چې پاکستاني ځواکونه دې له کشمېر او شاوخوا سیمو ووځي او د خلکو پر وړاندې دې د تاوتریخوالي او بشري حقونو د سرغړونو مخه ونیول شي.

پر امریکا او متحدینو یې د شمالي کوریا نیوکې

رویټرز راپور ورکړی، چې شمالي کوریا د ناټو له وروستۍ سرمشریزې وروسته پر امریکا او لوېدیځو متحدینو نیوکه کړې او ویلي یې دي، چې لوېدیځ هېوادونه د پوځي بلاکونو پیاوړتیا او د وسلو د زېرمو زیاتولو ته دوام ورکوي. د شمالي کوریا د بهرنیو چارو وزارت په اعلامیه کې، چې د دولتي خبري اژانس (KCNA) خپره کړې، ناټو د جګړې او مقابلې پر لور تلونکې اداره بللې او ویلي یې دي، چې پیونګ یانګ به د خپل امنیت او حاکمیت د ساتنې لپاره خپل پوځي توان نور هم پیاوړی کړي. دا څرګندونې وروسته له هغې کېږي، چې د ناټو په وروستۍ غونډه کې د پوځي همکاریو د پراختیا، د وسلو د تولید او پېرلو په اړه نوي تړونونه اعلان شول. شمالي کوریا له دې مخکې هم ویلي، چې خپل اټومي ځواک به پیاوړی کړي او د اټومي وسلو د پرېښودو غوښتنې یې رد کړې دي.

فلیپین کې د ځمکې ښویېدنې له امله ۱۵ تنه مړه شوي

نړیوالو رسنیو راپور ورکړی، چې په فلیپین کې د سختو بارانونو له امله د ځمکې ښویېدنو په پایله کې ۱۵ کسان مړه شوي دي. د راپورونو له مخې، د سارانګاني ولایت په مالاپاتان ښار کې د ځمکې ښویېدنې له امله ۱۰ کسان مړه شوي او د لاناو دل سور ولایت په بله پېښه کې د یوې کورنۍ پنځه غړي مړه شوي دي. بله خوا «باوي» توپان د تایوان، جاپان او چین پر لور روان دی. د فلیپین د هواپېژندنې ادارې ویلي: که څه هم دغه توپان به په مستقیم ډول فلیپین ته داخل نه شي، خو ورسره تړلي باراني سیستمونه د سختو بارانونو، سېلابونو او ځمکې ښویېدنې خطر زیاتولی شي.

ایراني رسنۍ: امریکایي پوځ له سختو داخلي اختلافاتو سره مخ دی

ایراني رسنۍ راپور ورکړی، چې د امریکا په پوځي جوړښت کې داخلي اختلافونه او بنسټیز بحرانونه لا پسې ژور شوي او دغه وضعیت د دغه هېواد د پوځ پر یووالي او جګړه‌ییز چمتووالي اغېزې کړې دي. د راپور له مخې، د امریکا پوځ د دفاعي او پوځي ماموریتونو تر څنګ د پرسونل او جنسیتي هویت د اړوندو موضوعاتو په اړه له سیاسي، ایډیالوژیکو او حقوقي شخړو سره مخ دی. راپور زیاتوي: د امریکا د اجرائیه او قضائیه قواوو تر منځ وروستۍ لانجه، چې په پوځ کې د جنسیتي هویت د بدلون لرونکو کسانو د خدمت کولو د وضعیت پر سر رامنځته شوې، د دغه هېواد د پوځ د داخلي یووالي او جنګي چمتووالي په اړه یې اندېښنې راپارولې دي.